دافغانستان اسلامـــي جمهوری دولت
د ټـــاکنـــوخپلــــواک کميسيـــون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کميسيون مســـــــتقل انتخابات

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Independent Election Commission**

---

# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پریکړه لیک

د پریکړې شمېره: ۱۳۹۲-۴۳

موضوع: د رای ورکولو هغه مرکزونه چې نوي د کورنیو چارو وزارت تر امنیتي پوښښ لاندې راځي.

مرجع: د ټاکنو خپلواکمیسیون دارالانشا

د جلسې نېټه او ځای: ۱۳۹۲ کال د دلوي ۲۹(۲۰۱۴ کال د فبروري ۱۸) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر

حاضر غړي: ښاغلی ډاکتر احمدیوسف نورستانی،ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، اغلې ګلالی اڅکزی، ښاغلی سریر احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمدحسین ګرزیواني، ښاغلی محمد عزیز بختیاري، اغلې لیلا احراري او اغلې شریفه زرمتی وردک .

د ټاکنو خپلواک کمیسیون پریکړه کړې چې:

د ټاکنو د ترسره کولو په موخه د رای ورکولو په هغو مرکزونو کې چې امنیتي بنسټونو یې د امنیت د تامین په اړه ډاډ ورکړی وو، لازم اقدامات شوي دي. د کورنیو چارو وزارت څخه رسماً غوښتنه کېږي چې د دې پریکړې له نېټې وروسته د هغو نویو مرکزونو په اړه چې تر امنیتي پوښښ لاندې راځي، له کمیسیون سره شریک نه کړي، ځکه ټاکنیز تقویم ته په پام تول ضروري فعالیتونه لکه ولایتونو ته د ټاکنیزو موادو انتقال ، د ټاکنیزو کارکوونکو استخدام او روزنه او د رای ورکولو مشخصو مرکزونو او محلونو ته د څارونکو د معرفي کولو په موخه له نوماندانو سره د رای ورکولو د مرکزونو او محلونو د لېست شریکول له مخکې بشپړ شوي دي. د نویو مرکزونو لپاره د پورتنیو فعالیتونو ترسره کول له دې نېټې وروسته ناممکن دي.

| له پریکړې سره په مخالفت کې | د غړو نومونه | د پریکړې تاید |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر محمدیوسف نورستانی | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکي | |
| | اغلې ګلالی اڅکزی | |
| | ښاغلی سریراحمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلېمان حامد | |
| | اغلې لیلا احراري | |
| | اغلې شریفه زرمتی وردک | |